امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه مدیریت حوادث

۱۷ الی ۲۲ قوس ۱۴۰۳

شماره هشتاد و ششم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د افغانستان لپاره د یونیسف دفتر له سرپرست او مل پلاوی سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د افغانستان لپاره د یونیسف موسسې سرپرست، عبدالقادر، د خدماتو مسوول عبدالله مخلوف او د هغه مل پلاوی سره وکتل او د پېښو له امله زیانمنو ته په ښه توګه د مرستو رسولو په اړه  خبرې وکړې.

په دې ناسته کې ښاغلی ترابي صاحب د یونیسف دفتر پلاوی ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ وویل چې دې موسسې د افغانستان له خلکو سره زیاتې مرستې کړې دی او زه له دوی څخه ځانګړې مننه او قدرداني کوم...

ادامه در صفحه۲

## سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با معاون اقتصادی و انکشافی یوناما در افغانستان دیدار کرد



الحاج ملا نورالدین ترابی سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با اندریگا روت ویته، معاون اقتصادی و انکشافی یوناما، در دفتر کاری خود دیدار نمود...

ادامه در صفحه۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د جرمنی د اسلپ خیریه بنسټ له رضاکارانو سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاری دفتر کې د جرمنی د اسلپ خیریه بنسټ رضاکارانو...

ادامه در صفحه۴

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او اکرو موسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاری دفتر کې د اکرو موسسې له رئیس مبارکشاه جواد سره وکتل...

ادامه در صفحه۵

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د افغانستان لپاره د یونیسیف دفتر له سرپرست او مل پلاوی سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د افغانستان لپاره د یونیسف موسسې سرپرست، عبدالقادر، د خدماتو مسوول عبدالله مخلوف او د هغه مل پلاوی سره وکتل او د پېښو له امله زیانمنو ته په ښه توګه د مرستو رسولو په اړه خبرې وکړې.
په دې ناسته کې ښاغلی ترابي صاحب د یونیسف دفتر پلاوی ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ وویل چې دې موسسې د افغانستان له خلکو سره زیاتې مرستې کړې دی او زه له دوی څخه ځانګړی مننه او قدرداني کوم.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست زیاته کړه چې، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په ګدامونو کې د یونیسف له خوا مرسته شوی یو شمېر توکی شته، چې موږ به یې د خپلو موجوده مرستو سره یو ځای خلکو ته ووېشو. هغه له یونیسف وغوښتل چې دا ډول مرستې د دې ادارې ولایتی ریاستونو ته هم ورکړی، ترڅو د اړتیا په وخت کې خلکو ته ووېشل شی او هغوی ته پر وخت لاسرسی وشی. ښاغلی ترابي همداراز وویل چې دغه اداره هڅه کوی ترڅو  چې په راتلونکی کې د امارت له بودیجې څخه  یا د نورو موسسو په همکاری معیاری ګدامونه جوړ کړی.
په همدې حال کې عبدالقادر موسی، د افغانستان لپاره د یونیسف موسسې سرپرست، د دې کتنې څخه خوښی څرګنده کړه او ویې وویل چې یونیسف په ټولو ولایتونو کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سره همکاری لری او په دوامداره توګه هڅه کوی چې زیانمنو خلکو ته بېړنۍ مرستې ورسوی.
نوموړی زیاته کړه چې اوس مهال په ۱۲ مرکزی او ختیځو زونونو کې د روغتیا او ژمی لپاره مرستې موجودې دی، او د روانی میاشتې تر پای پورې به نورې مرستې هم یونیسف ته ورسیږی چې بیا به د ولایتی ریاستونو له لارې خلکو ته ووېشل شی.
ورته مهال، عبدالله مخلوف، د یونیسف موسسې د خدماتو مسوول، وویل چې دا موسسه په ۹ ولایتونو کې ګدامونه لری او په راتلونکی کې به هڅه وکړی چې په هغو سیمو کې ګدامونه جوړ کړی چې له پېښو زیانمنونکو سیمې وی، ترڅو د اړتیا په وخت کې خلکو ته پر وخت بېړنۍ مرستې ورسول شی.
په پای کې، د یونیسف موسسې سرپرست د بیړنیو حالاتو په ترڅ کې د دې موسسې د بشپړې همکارۍ لپاره د چمتووالی ډاډ ورکړ او دواړو خواوو په دوامداره همکارۍ ټی ټینګار وکړ.

# سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با معاون اقتصادی و انکشافی یوناما در افغانستان دیدار کرد



الحاج ملا نورالدین ترابی سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با اندریگا روت ویته، معاون اقتصادی و انکشافی یوناما، در دفتر کاری خود دیدار نمود.
آقای ترابی در آغاز به هیئت دفتر یوناما خوش‌آمدید گفت و اضافه کرد که یوناما همواره در زمینه کمک‌های بشری و تخنیکی با ما همکاری کرده است که از آنان سپاسگزاری ویژه داریم و بر تداوم همکاری‌های مشترک در آینده نیز تأکید کرد.
همچنین در این دیدار، بر مدیریت کمک‌های بشری در بخش حوادث، آگاهی‌دهی عامه در مورد خطرات ماین‌ها و پاک‌سازی آن تأکید شد.
درهمین حال، اندریگا روت ویته، معاون اقتصادی و انکشافی یوناما در افغانستان، از سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث جهت اختصاص وقت ملاقات تشکر کرده و افزود که این اداره همواره در زمینه حوادث طبیعی و غیرطبیعی با ما همکاری خوبی داشته است و ما تلاش خواهیم کرد که همچنان به همکاری خود ادامه دهیم.
آقای روت ویته اضافه کرد که ما درباره تأثیرات تغییرات اقلیمی و جلوگیری از خشکسالی تحقیق می‌کنیم تا مشخص شود چه تعداد افراد آسیب‌دیده اند، تا بتوانیم به موقع تدابیر لازم را اتخاذ کنیم. همچنین به مهاجرانی که به کشور بازگشته‌اند یا بازخواهند گشت، در مورد خطرات مواد منفجره ناشده آگاهی‌دهی خواهیم کرد.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د جرمنی د اسلپ خیریه بنسټ له رضاکارانو سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابی، په خپل کاری دفتر کې د جرمنی د اسلپ خیریه بنسټ رضاکارانو، سرکان ایزه او مایکل سونر او د یاد بنسټ همغږی کوونکی نجیب الله سلیمان خیل سره د دې ادارې د نړیوالو اړیکو رئیس الحاج مولوی حافظ عبدالرحمن رحمانی په حضور کې وکتل او خبرې یې وکړې.

په دې ناسته کې، الحاج ملا نورالدین ترابی د اسلپ خیریه بنسټ رضاکارانو ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ په کندهار، بلخ او لوګر ولایتونو کې د بې وزلو خلکو لپاره د یاد بنسټ له مرستو مننه وکړه. هغه وویل چې موږ هغو خلکو ته چې ریښتینی مستحقین او زیات اړمن دی، د خیریه بنسټونو او موسسو په همکارۍ مرستې رسوو.

نوموړی د سروې او مرستو د وېش په پروسه کې د شفافیت ډاډ څرګند کړ او زیاته یې کړه چې موږ خیریه موسسو ته لازمې اسانتیاوې برابروو، ترڅو هغوی په ښه او چټک ډول اړمنو کسانو ته مرستې ورسوی.

ورپسې د جرمنی اسلپ خیریه بنسټ رضاکارانو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له لوری د مرستو وېشلو لپاره د لازمې اسانتیاوو برابرولو څخه مننه وکړه او څرګنده یې کړه چې موږ ډاډه یو چې مرستې په شفافه پروسه کې ریښتینی مستحقینو ته رسېږی، او له همدې امله موږ د خپلو مرستو په دوام او زیاتوالی کې لیواله یو.

په پای کې دواړو خواوو اړمنو او له خطر سره مخ خلکو ته د مرستو رسولو په برخه کې پر لا زیاتو همکاریو ټینګار وکړ او د اسلامی امارت د اصولو په چوکاټ کې یې د دغو همکاریو د دوام ژمنه وکړه.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او اکرو موسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په خپل کاری دفتر کې د اکرو موسسې له رئیس مبارک‌شاه جواد سره وکتل او د یادې موسسې سره یې د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک کړه.

په دې ناسته کې، الحاج ملا نورالدین ترابی د اکرو موسسې پلاوی ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ وویل چې موږ په ټولو ولایتونو کې ریاستونه او د مرستندویه موسسو او بنسټونو لپاره اړمنو او زیانمنو ته د مرستو رسولو زمینه برابروو. نوموړی د مرستو د وېش په پروسه کې د شفافیت لپاره د همکارۍ ډاډ ورکړ.

وروسته د اکرو موسسې رئیس مبارک‌شاه جواد له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست له همکارۍ مننه وکړه او د خپلې موسسې د فعالیتونو په اړه یې معلومات وړاندې کړل. هغه وویل چې موږ په تېرو ۱۴ کلونو کې د ۲۸ ولایتونو په بېلابېلو برخو کې فعالیت کړی دی او د خپلو مرستو او شفافو فعالیتونو په اړه یې ډاډ ورکړ.

د یادونې وړ ده چې د دې تفاهم‌نامې له مخې، یاده موسسه به د ارزګان ولایت د دهراود، خاص ارزګان، ګیزاب او چوری ولسوالیو اړوند له بې‌وزله خلکو سره د ۶۹۹,۳۸۹ ډالرو په ارزښت مرسته وکړی. په دی ډول چې هغو ۸۰ کورنیو ته چې د طبیعی پېښو له امله یې کورونه ویجاړ شوی، هرې کورنۍ ته به ۵۵۰ ډالر ورکړې او بې‌وزلو کورنیو ته به د سون توکو لپاره ۲۰۰ ډالر، د ژمنیو جامو لپاره ۷۴ ډالر، او ۵ کمپلې ورکړې.

# له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې او رازی پراختایي او ټولنیزی مؤسیسې تر منځ د۱۳۹۱۸۲ یو لک نهه دیرش زره یو سل دوه اتیا ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه




له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د رازی پراختایي او ټولنیزی مؤسیسې د هماهنګۍ د مسؤل عبدالناصر پویا سره په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب د رازی پراختایي او ټولنیزی مؤسیسې دهماهنګۍ مسؤل ته دښه راغلاست ترڅنګ وویل چی خوښ یو چی نن یو داسی تفاهم نامه لاسلیک کوو چی په هغه سره زموږ اولس ته مرستی رسول کیږی او دیادی مؤسیسې د ټول کاری ټیم څخه یې غوښتنه وکړه او وویل چی یادی مرستی باید ژر تر ژره تر خلګو ورسوی ترڅو خلګ د ژمنی توکو څخه برخمن سی.

او زیاته کړل چی دیادی مؤسیسې سره مو دوې تفاهم نامی مخکی هم لاسلیک کړی دی چی په هرات ولایت کی یې خلګ د مرستو څخه برخمن شوی دی.

دیادی مؤسیسې د هماهنګۍ مسؤل عبدالناصر پویا له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملی ادارې د سرپرست څخه مننه وکړل چی له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې زموږ کارونه بیله ځنډه راته خلاصوی او د یادې ادارې دټول کار ټیم څخه یې مننه وکړل او ترڅنګ وویل چی دیادی ادارې سره باید بیلابیل مؤسیسات او نړیوال سازمانونه د طبعی او غیری طبعی پیښو پر وړاندې مرسته وکړی.

دیادونې وړ ده چی یاده موسسه د ۱۳۹۱۸۲ یو لک نهه دیرش زره یو سل دوه اتیا ډالرو په ارزښت په هرات ولایت کی ۵۰۰ زلزله ځپلو کورنیو ته ژمنۍ راشن ویشی چی هر راشن د ۲۰۰ ډالرو قیما لری چی په هر راشن کی ۵ تختې کمپلی،۵ جوړې دماشومانو گرم کالی،۲ دوې جوړې دلویانو گرم کالی،۲ دانی زنانه شالونه، دوه دانی دنارینوو پټوان، دوی جوړې دلویانو بوټونه،۴ جوړې دماشومانو بوټونه،۱۲ جوړې جرابی، ۴ جوړې دستکشی او ۴ دانی خولۍ ګانۍ شامل دی.

او لس تنو هغو ښځو ته چی د کور سرپرستی ورله غاړی وی هری ښځی ته به یو عراده د خیاطۍ ماشین د ټولو لوازمو سره ورکول کیږی.

# له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د تعلیمی څیړنو او پراختیایی مؤسیسې تر منځ د ۲۸۲۶۸ اته ویشت زره دوه سوه اته شپیته ډالرو په ارزښت دګډو همکاریو دوی تفاهنامی لاسلیک سوی




له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د تعلیمی څیړنو او پراختیایی مؤسیسې رئیس محمد حیدر شینواری او د پروګرام مسؤل شفیق الله متین سره په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب د یادې مؤسسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووېل او د ژمنی توکو پر ژر رسیدنه یی زیات ټینګار وکړ او ویې ویل چې تر بل هر وخت کورنۍ په ژمی کی هر ډول مرستو ته اړتیا لری او باید پر وخت مرستی ورسره وسی.

او زیاته یې کړل چی دټولو مؤسیساتو او سازمانونو څخه مو غوښتنه داده چی دژمی په راتګ سره خپلی مرستی زیاتی کړی.

د تعلیمی څیړنو او پراختیایی مؤسیسې رئیس محمد حیدر د یادی ادارې د سرپرست د کارونو څخه زیاته خوښی وښودل او وویل چی موږ به تل هڅه کوو چی زیانمنو کورنیو ته پر وخت رسیدنه وکړو او مرستی ورسره وکړو.

دیادونی وړ ده، لومړی تفاهم نامه چی د ۱۵۲۱۴ ډالرو په ارزښت لاسلیک شوه له مخی به یی د بامیان ولایت په مرکز کی ۹۰ بې سرپرسته کورنیو سره ژمنۍ مرستی وشی چی د هر راشن قیمت به ۱۵۰ ډالره وی چی په هر راشن کی دوې تختې کمپلی، ۶ جوړې(.)،یوه دانه ښځینه شال، یودانه نارینه د ژمی پتو، دوه دانی ګرم جانکاټان، ۴ دانی د ماشومانو جانکاټان، څلور دانی دماشومانو دژمی خولی،۱۲ جوړې جرابی او۴ جوړې دستکشی شامل دی.

او همدارنګه دوهمه تفاهم نامه چی د ۱۳۰۵۴ ډالرو په ارزښت لاسلیک شوه له مخی به یی د بامیان ولایت په مرکز کی ۶۰ هغه کورنیو ته چی په غرونو کی اوسیږی دژمنی راشن مرسته وکړی چی د هرراشن قیمت به ۱۷۴ ډالره وی چی په هر راشن کی ۶ تختې کمپلی، یوه دانه ښځینه شال، یودانه نارینه دژمی پتو ، دوه دانی ګرم جانکاټان دلویانو لپاره، ۴ دانی د ماشومانو جانکاټان، څلور دانی دماشومانو دژمی خولی،۸ جوړې جرابی، ۴ جوړې دستکشی او د بسته بندی کیټ شامل دی.

په ورستیو کی د دواړو لورو لخوا دوی تفاهم نامې لاسلیک شوې او پر ګډو همکاریو د داوم غوښتنه وسوه.

# له پيښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او مسلم هندز نړيوالي مؤسيسې ترمنځ د ۹۳۱۵۰ درې نيوی زره يو سل پنځوس ډالرو په ارزښت دګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه




له پيښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابي د مسلم هندز نړيوالی مؤسيسې د رئيس محمد اصف فولاد او مل پلاوی سره په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابي صاحب  د مسلم هندز نړيوالی مؤسيسې  رئيس محمد اصف فولاد او مل پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وويل چی موږ تل دمؤسيساتو سره همکاری کړی ده او کوو يې او هيله لرو چی ټول سازمانونه او مؤسيسات پر وخت د اړمنو کورنيو سره مرستی وکړی او دټولو نړيوالو او داخلی مؤسيساتو څخه يی غوښتنه وکړه چی په طبعی او غيری طبعی پيښو او وقايوی  په برخو کی زموږ سره همکاره پاته سی او د اولسونو سره مرستی وکړی.

 دمسلم هندز نړيوالی مؤسيسې رئيس محمد اصف وويل چی ياده مؤسيسه په بيلابيلو برخو کی لکه صحت، پوهنه، واش اود بيلابيلو پروژو په برخه کی اولس ته خدمت کوو.

ښاغلی فولاد زياته کړل چی خوښ يو چی له پيښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره زموږ کارونه بيله څنډه راته خلاصوی ديادې ادارې دټول کار ټيم څخه يی مننه وکړل.

ديادونی وړ ده چی ياده موسسه د ۹۳۱۵۰ ډالرو په ارزښت  په غور په ولايت کې د۲۷۰  بی وزلو او اړمنو کورنيو سره د ژمنيو راشنانړ مرسته کوی چې په هره راشن کی لاندې توکی شامل دی:

خوراکی توکې: ۵۰ کيلو ګرامه اوړه، ۱۰ کيلو ګرامه وريجې، ۵ ليتره مايع غوړی او ۳ کيلو ګرامه لوبيا.

ژمنی جامی: ۱ تخته ۳ کيلويی کمپله، ۱ دانه د نارينه پټو، ۱ دانه د ښځو ژمنی شال، ۱ دانه د نارينه جاکټ، ۱ دانه د ښځو جاکټ، ۲ دانی د هلکانو جاکټونه،  ۲ دانی د انجونو جاکټونه.

د سوند توکی: ۲ پايه د اوسپنې بخاری (چری) د نل او تخته منقل سره، او ۲۱۰ کيلو ګرامه لرګی.

د هر راشن  بيه د (غذايی موادو، ژمنی البسو، او د سوند موادو) په شمول ټولټال ۲۴۶.۸۴ امريکايی ډالره ده.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د تېرو مرستو په دوام یو ځل بیا په کابل کې ۶۵۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، په داسې حال کې چې د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس مولوی نجیب الله انوری او خبریالانو شتون درلود، په کابل ښار کې ۶۵۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې.

محترم ترابی صاحب وویل چې د تېرو مرستو په دوام، پرته له هغو مرستو چې د موسسو په همکارۍ ترسره کېږی، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ویشی او د نن ورځې په پروګرام کې، د ۶۵۰ کورنیو لپاره، چې له دې جملې څخه ۲۰۳ کورنۍ د بګرامی ولسوالۍ، ۲۲۷ کورنۍ د ده سبز ولسوالۍ، او ۲۲۰ کورنۍ د میر بچه کوټ ولسوالۍ څخه دی او د پېښو له امله زیانمنې شوې دی د یاد شمېر کورنیو لپاره خوراکی او غیرخوراکی مرستې وویشلی چې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې، دیونیسف لخوا یو کارتن چی دماشومان ۱۴ قلمه ژمنی توکی پکښی کی وه او یوه چریکی بستره ووېشل شول.

نوموړی زیاته کړه چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له لوری په دوامداره توګه د کابل په ۱۴ ولسوالیو او د هیواد په نورو ولایتونو کې د زیانمنو او مستحقو کورنیو لپاره د مرستو د وېش لړۍ دوام لری.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست له زیانمنو کورنیو سره د خواخوږۍ پر مهال هغوی ته وویل چې اوس مهال همدا مرستې زموږ په اداره کې موجودې دی او تاسو ته یې ویشو، او په راتلونکی کې به هڅه وکړو چې ستاسو لپاره د نورو مرستو زمینه هم برابره کړو.

د یادونې وړ ده چې زیان منونکو د دې مرستو څخه مننه او خوښی څرګنده کړه او د دغه بهیر د دوام او زیاتېدو غوښتنه یې وکړه.

## د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۵۰ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ملک سلمان خیریه بنسټ په مالي ملاتړ د ORCDG موسسې په همکارۍ, د یاد ولایت په کنګ, چخانسور, چهاربرجک, خاشرود او دلارام ولسوالیو او مرکز زرنج ښار کې د طبیعي پېښو له امله ۳۵۰ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست رییس, د ولایت مقام, د اقتصاد ریاست او د موسسې د استازو په شتون کې هرې کورنۍ ته یو باب خیمه, 5 تختې کمپلې او د کور اړین توکو یو کېټ ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث کابل برای ۲۰۳ خانواده متضرر مساعدت غذایی و غیر غذایی انجام داد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث کابل، روند توزیع کمک‌های غذایی و غیرغذایی برای ۲۰۳ خانواده متضرر از حوادث طبیعی و نیازمند در ولسوالی کلکان را با حضور مولوی نجیب‌الله انوری، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث این ولایت و هیئت موظف آغاز کرد.

در این پروسه، برای هر خانواده کمک‌هایی شامل یک بوری آرد ۵۰ کیلویی، یک بوری برنج ۲۵ کیلویی، یک تخته لحاف، یک بسته صحی شامل ۱۴ قلم جنس و سه تخته کمپل توزیع شد.

در همین حال، مولوی امین‌الله بدری، ولسوال کلکان، ضمن قدردانی از این کمک ها، تأکید کرد که چنین اقدامات برای حمایت از آسیب‌دیدگان ادامه خواهد یافت و مستفیدین نیز با ابراز خرسندی، برای سلامتی مسئولان دعا کردند.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث بامیان روند توزیع مساعدت غیر غذایی برای ۳۰۰ خانواده را آغاز کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت مؤسسه ORCDG که تمویل کننده آن مرکز بشردوستانه ملک سلمان است، روند توزیع مساعدت غیر غذایی برای ۳۰۰ خانواده متضرر از حوادث طبیعی در شش ولسوالی آن ولایت را آغاز کرد.

این کمک‌ها برای هر خانواده شامل یک باب خیمه با ملحقات، ۵ تخته کمپل، و یک بسته آشپزخانه(شامل ۱۹ قلم وسایل آشپزی) بوده که با حضور مقام‌های محلی در مرکز بامیان توزیع شد.

قابل ذکر است که برای هر ولسوالی ۵۰ خانواده در نظر گرفته شده که از آن جمله برای ۱۰۰ خانواده مرکز و ولسوالی کهمرد امروز در مرکز بامیان این مساعدت انجام شد و قرار است روزهای آینده توزیع به خانواده‌های ولسوالی‌های یکاولنگ۱، یکاولنگ۲، ورس و پنجاب در مراکز ولسوالی‌های مربوطه ادامه یابد.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د فرزی ولسوالۍ د ۲۰۰ زیانمنو او اړمنو کورنیو سره د خوراکی او غیرخوراکی توکو مرستې وکړې



د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د مرستو رسونې په دوام په فرزی ولسوالۍ کې د طبیعی پېښو له امله ۲۰۰ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته خوراکی او خوراکی مرستې ووېشلې.
د مرستو د وېش په دې پروګرام کې د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست رییس محترم مولوی نجیب الله انوری ووېل, چې په پام کې ده د کابل په نورو ولسوالیو کې هم د زیانمنو خلکو د سروې او تثبیت بهیر ترسره کړی ترڅو له هغوی سره مرستې وکړي.
نوموړی زیاته کړه چې نن ورځ په مجموع کې ۲۰۰ کورنیو ته مرستې وېشل کېږی چې له دې جملې  شخع ۱۵۰ کورنۍ د طبیعی پېښو له امله زیانمنې شوی او ۵۰ نورې کورنۍ اړمنې پېژندل شوی.
د یادونې وړ ده چې په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه, ۲۵ کیلو وریجې, یو تخته روجایی, ۳ تختې کمپلې, یو پاکټ پارچه او ۱۴ قلمه توکی لرونکی یو روغتیایی کېټ ووېشل شول.
ورته مهال له مرستو برخه منو له یاد ریاست څخه د مرستو د وېش په پار مننه او خوښی څرګنده کړه او خلکو ته د مرستو رسولو له امله یې د هغوی د سلامتیا او د اسلامی نظام د بقا لپاره دعا وکړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث دایکندی برای ۱۲۰۰ تن در برابر کار پول نقد توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی با حمایت مؤسسه مبارزه با گرسنگی (AAH)، برای ۱۲۰۰ نفر در ولسوالی های میرامور و اشترلی پول نقد توزیع کرد.
این کمک‌ها در چارچوب برنامه «پول نقد در مقابل کار» و با هدف کاهش خطرات حوادث طبیعی از طریق پروژه‌ای تحت عنوان «افزایش انعطاف‌پذیری جامعه، بهبود معیشت و مدیریت حوادث» انجام شده است.
بر اساس این برنامه، به هر فرد مستفید مبلغ ۸۰۰۰ افغانی در بدل ۲۰ روز کار پرداخت گردید.
این پروژه در راستای کاهش آسیب‌پذیری مردم و تقویت توانایی آنان در مقابله با چالش‌های ناشی از حوادث طبیعی اجرا شده است.

## د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۶۲ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د DRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د یاد ولایت په رشیدان ولسوالۍ کې ۲۶۲ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې له سروې وروسته هرې کورنۍ ته ۱۳،۵۰۰ افغانۍ او په مجموعی توګه ۳،۵۳۷،۰۰۰ افغانۍ نغدی پیسې ووېشل شوې.
دغه مرستې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د رشیدان ولسوالۍ او د یادې موسسې استازو له لوری له سروې او تثبیت د بهیر وروسته په شفافه توګه ووېشل شوې.

## د لوګر دمس عینک په پروژه کې د لارج لوپ مهماتو ترلاسه کوونکی ماشین بریالۍ آزموینه ترسره شوه



د ماین پاکی د انسجام او همغږۍ ریاست د ډافا موسسې په همکارۍ، د لوګر ولایت په مس عینک پروژې کې د لارج لوپ ډول مهماتو ترلاسه کوونکی ماشین د ظرفیت ازموینه ترسره کړه.
د دې آزموینې پایلو وښوده چې دغه ماشین په یوه ورځ کې شاوخوا ۱۵،۶۰۰ مربع متره سیمه پاکولی شی، او په هغو سیمو کې چې خنډونه کم وی، دا ظرفیت نور هم زیاتېدلی شی. سره له دې چې د ماشین کړنه ښه وه، د شانستیټ لوکیټر د سیمې د معدنی توکو له امله مطلوبه پایله ورنه کړه. څارونکی ټیم وړاندیز وکړ چې د لوکیټر نورو ماډلونو یا د شیبلا ډیټیکټرونو څخه دې ګټه واخیستل شی.
په پای کې، د ډافا موسسې میخانیکی ماشینونه وڅېړل شول او د هغوی لپاره نوی عملیاتی جواز صادر شو.

## د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۱۱۵ کونډو او یتیمانو د کورنیو سره خوراکی مرستې وکړې



د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ترکیه او جرمنی ستلپ بنسټ په مالی ملاتړ، د ۱۱۵ کونډو او یتیمانو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته یوه بورۍ اوړه ۵۰ کیلویی، یوه بورۍ وریجې ۲۴.۵ کیلویی، ۱۰ لیتره غوړی، ۳.۵ کیلو لوبیا، دوه کیلو بوره، ۲ قُطۍ رُب، ۴ پاکټه مکرونی، یو کیلو شین چای، دوه کیلو مالګه او ۲ عدده صابون ووېشل شول.
په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او یاد بنسټ څخه مننه او قدردانی وکړه او د لا زیاتو مرستو غوښتنه یې وکړه.

## د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۱۸۰ بېوزله کورنیو سره نغدی مرستې وکړې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د IRC موسسې ترمنځ د هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د یاد ولایت په سره رود ولسوالۍ کې ۱۸۰ بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې.
په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته د خوراکی توکو پیرلو لپاره د یاد ریاست او موسسې د استازو په شتون کې د دریم قسط ۲۷۰۰ افغانۍ او په مجموعی توګه ۴۸۶ زره افغانۍ وویشل شوې.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په ګلدره ولسوالۍ کې ۲۰۰ کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې وویشلې



د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, په ګلدره ولسوالۍ کې د طبیعی پېښو له امله ۲۰۰ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته یوه بوری اوړه ۵۰ کیلویی, یوه بوری وریجې ۲۵ کیلویی,۱۰ کیلو بوره, ۱۴ قلمه توکی لرونکی یو روغتیایی کېټ او 3 تختې کمپلې وویشل شوې.
د یادونې وړه چې له دی جملې ۱۵۰ کورنۍ د طبیعی پېښو له امله زیانمنې او ۵۰ نورې کورنۍ اړمنې او بېوزله وې چې له سروې وروسته هغوی ته یادې مرستې وویشل شوې.

## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۹ کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې



د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د AKAH موسسې په مالی ملاتړ، د یاد ولایت مرکزی بغلان ولسوالۍ په دره سوفیان او شېخ جلال کلیو کې د شلټر پروژې په ترڅ کې ۴۹ کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې د یاد ریاست او موسسې استازو په شتون کې له دې جملې ۲۴ کورنیو ته د لومړی قسط ۵۴۳۵۴ افغانۍ او ۲۵ نورو کورنیو ته د دویم قسط ۶۷۹۴۵ افغانۍ هرې کورنۍ ته وویشل شوې چې په مجموع کې د ۲ میلیونه ۹۸۹ زره او ۵۳۰ افغانیو نغدی مرسته ترسره شوه.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې ریاست ۲۰۵ کورنیو ته په قره باغ ولسوالۍ کې خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، په قره باغ ولسوالۍ کې د طبیعی پېښو له امله ۲۰۵ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته یوه بوری اوړه ۵۰ کیلویی، یوه بوری وریجې ۲۵ کیلویی، یوه بوری غنم، ۱۴ قلمه توکی لرونکی روغتیایی کېټ او ۳ تختې کمپلې ووېشل شوې.

د یادونې وړ ده چې له دی جملې څخه ، ۱۵۵ کورنۍ د طبیعی پېښو له امله زیانمنې او ۵۰ نورې کورنۍ اړمنې او بېوزله وې چې له سروې وروسته هغوی ته مرستې ووېشل شوې.

## د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، هغو ۵ کورنیو ته چې د کورنۍ غړی یې په ترافیکی پېښه کې زیانمن شوی وو هغوی ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو غنم، ۵۰ کیلو وریجې، ۵ لیتره غوړی، یو کیلو چای، ۷ کیلو بوره او یو روغتیایی کېټ ووېشل شول.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۶ بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IRC موسسې او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداری ترمنځ د هوکړه لیک له مخې او د یادې موسسې په مالی ملاتړ، په سره رود ولسوالۍ کې ۱۲۶ بېوزله کورنیو ته د خوراکی توکو پېرلو لپاره نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ هرې کورنۍ ته د یاد ریاست او موسسې استازو په شتون کې ۲۷۰۰ افغانۍ او په مجموعی توګه ۳۴۰ زره او ۲۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.



## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۱۰،۴۸۸،۰۰۰ افغانۍ ۶۰۸ زیانمنو کورنیو ته وویشلې



د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د IOM موسسې په مالی ملاتړ، د طبیعی پېښو له امله ۶۰۸ زیانمنو، کډوالو او بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۱۷،۲۵۰ افغانۍ او په مجموعی توگه ۱۰،۴۸۸،۰۰۰ افغانۍ نغدی پیسې وویشل شوې.
همداراز د ۶۰۸ کورنیو له جملې څخه ۴۴۵ کورنۍ د طبیعی پېښو له امله زیانمنې، ۱۳۵ کورنۍ کډوالی او ۲۸ نورې کورنۍ بېوزله وې او هغوی ته نغدی مرستې وویشل شوې.
د یادونې ده چې له مرستو برخه منو کورنیو له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست او یادې موسسې څخه مننه او قدردانی وکړه.

## د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۸۱۴ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې



د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د IRC موسسې په مالی ملاتړ، د بامیان ولایت په مرکز کې ۸۱۴ زیانمنو کورنیو ته چې سروې یې مخکې ترسره شوی وه او مستحقې پېژندل شوی وې، یاد شمېر کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۲۷۰۰ افغانۍ او په مجموعی توگه ۲،۱۹۷،۸۰۰ افغانۍ وویشل شوې.
د یادونې وړ ده چې دغه مرستې به تر راتلونکو ۵ نورو میاشتو پورې هم یادو کورنیو ته وویشل شي.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۸۲۹ کورنیو ته نغدی پیسې او ژمنۍ البسې وویشلې




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د IOM موسسې په مالی مرسته، د یاد ولایت مرکز مهترلام او بېلابېلو ولسوالیو کی اړوند ۸۲۹ کورنیو ته له سروې وروسته نغدی پیسې او ژمنۍ البسې وویشلې.
په دې لړۍ کې د یاد ولایت والی شیخ شیر احمد حقانی او له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست رییس قاری خیر محمد غازی په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۷۲۵۰ افغانۍ او جامې، بوټان، جرابې او نور توکی لرونکې ژمنۍ البسه وویشل شوه او ۱۷ نورو هرې کورنۍ ته خیمه، د پخلنځی کېټ او هایجن کېټ وویشل شول.
ورته مهال د لغمان والی شیخ شیر احمد حقانی د مرستو د وېش پر مهال وویل چې په راتلونکې کې به د نورو کورنیو لپاره هم ژمنۍ مرستې ترسره کړی.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث پنجشیر برای ۱۵۰ خانواده مستحق مساعدت خوراکی و غیر خوراکی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر بر اساس هدایت مقام رهبری اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و فیصله کمیسیون ولایتی مبارزه با حوادث، کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی را برای ۱۵۰ خانواده مستحق در ولسوالی عنابه توزیع کرد.

این کمک‌ها تحت نظارت هیئت کمیسیون ولایتی مبارزه با حوادث برای هر خانواده مقدار ۵۰ کیلو آرد، ۲۵ کیلو برنج و ۲ تخته کمپل توزیع شد.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۳۲ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د ډاکار، IOM او WFP موسسو په مالي ملاتړ، ۳۲ کورنیو ته چې د امام صاحب په ولسوالۍ کې د زلزلې له امله زیانمنې شوي وې او سروې یې مخکې د موسسو په همغږۍ ترسره شوې وه یادو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د IOM موسسې له لورې هرې کورنۍ ته ۳ تختې کمپلې، د ژمنی جامو یو کېټ، یو تخته ترپال، ۲عدده سولری څراغونه او هغو ۹ کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو هغوی ته یو باب خیمه هم ووېشل شوه او د WFP موسسې له لورې هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۱۸.۲ کیلو غوړي، ۲۵ کیلو دال، ۲ کیلو مالګه، ۲ کیلو پلمپي، ۶ کیلو سوپرسریل او ۲.۹ کیلو بسکېټ او د ډاکار موسسې له لورې یو روغتیایي کېټ ووېشل شول.



## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۶۹ کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې



د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د هستوګنې لپاره د آغا خان موسسې په مالي ملاتړ، په بورکه ولسوالۍ کې د شلتر په نامه د پروژې په ترځ کې ۶۹ کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د یاد ریاست او موسسې استازو په شتون کې هرې کورنۍ ته د لومړی قسط ۶۷،۹۴۵ او په مجموع کې ۴،۶۸۸،۲۰۵ افغانۍ نغدي پیسې ووېشل شوې.

## د ماین پاکی د انسجام او همغږۍ ریاست په لوګر ولایت کې د جګړې د سیمو پاکولو له روزنیز کورس څخه لیدنه وکړه



د ماین پاکی د همغږۍ او انسجام ریاست د لوګر په ولایت کې د مس عینک ساحې د جګړې د سیمو د بیا پاکولو روزنیز کورس څخه لیدنه وکړه. دا کورس چې د دافا د ماین پاکولو موسسې لخوا ترسره شوی و، د ماین پاکونکو د مهارتونو د لوړو او د نړیوالو معیارونو پراساس د جګړې د سیمو د پاکولو او د امنیت د ټینګښت لپاره جوړ شوی و.
د دې لیدنې په ترڅ کې د ماین پاکولو د همغږۍ او انسجام ریاست ټیم ګډونوالو ته اړینې لارښوونې او مشورې وړاندې کړې او د کار د ترسره کولو د بهیر په ښه والي یې ټینګار وکړ. همدارنګه، د دې لیدنې په پای کې د ماین پاکولو په عملیاتو کې د نړیوالو معیارونو د رعایت او مهارتونو د لوړولو پر اهمیت ځانګړې ټینګار وشو.
د لیدنې ټیم د اړوندو لارښوونو سره سره د ځانګړو روزنو اهمیت په ډاګه کړ او د ماین پاکونکو خوندیتوب او د فعالیتونو په ښه کولو کې د دغه روزنیز پروګرام د رول پر اهمیت یې ټینګار وکړ.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۰ اړمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې وویشلې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ترکیه جرمنی ستلپ موسسې په مالی ملاتړ، ۱۵۰ اړمنو او بېوزله کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې وویشلې.
په دې لړۍ‌کې د یاد ریاست رییس حاجی قاری عبدالسلام عمری په شتون کې هرې کورنۍ ته اوړه، غوړي، وریجې، چای، مکرونی، روب، مالګه، ماش، لوبیا او صابون وویشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث بامیان برای ۴۹۱ خانواده آسیب‌پذیر مساعدت نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با کمیته بین‌المللی نجات، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث بامیان با حمایت مالی کمیته مذکور، برای ۴۹۱ خانواده مستحق و آسیب‌پذیر در ولسوالی سیغان مساعدت نقدی توزیع کرد.
در این برنامه که در هر مرحله برای هر خانواده مبلغ ۲۷۰۰ افغانی در نظر گرفته شده و به مدت شش ماه ادامه خواهد داشت، اینک دو قسط اول و دوم آن یک‌جا پرداخته شد، که برای هر خانواده مبلغ ۵۴۰۰ افغانی توزیع شد.
این کمک که در مجموع مبلغ ۲,۶۵۱,۴۰۰ افغانی شد با حضور مسوولان محلی برای آنان به صورت شفاف اهدا شد.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۲ کورنیو ته ۱,۶۲۴,۳۲۰ افغانۍ نغدې مرستې ووېشلې



د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د ACTED موسسې ترمنځ د هوکړه لیک له مخې او د یادې موسسې په مالي ملاتړ، ۷۲ بېوزله کورنیو ته په مرکز جلال آباد ښار کې د ژمي موسم د اړتیاوو پوره کولو په موخه نغدې مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې په مجموع کې ۱,۶۲۴,۳۲۰ افغانۍ نغدې پیسې ووېشل شوې چې د هرې کورنۍ لپاره ۲۲،۵۶۰ افغانۍ په پام کې نیول شوې وې.

## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۱۵ بېوزله کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې



د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د هستوګنې لپاره د آقاخان موسسې په مالي همکارۍ، په دوشي ولسوالۍ کې ۳۱۵ بېوزله کورنیو ته چې سروې یې مخکې ترسره شوې وه، یاد شمېر کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې.
دغه مرستې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د یادې موسسې د استازو په شتون کې ترسره شوې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ۸۷۹۰ افغانۍ او ټولټال ۲ میلیونه ۷۶۸ زره او ۸۵۰ افغانۍ ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۱۲۰ خانواده مستحق مواد خوراکی و غیرخوراکی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر به اساس هدایت رهبری اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث برای ۱۲۰ خانواده مستحق در ولسوالی شتل مواد غذایی و غیر غذایی توزیع نمود.
در این پروسه به هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۲۵ کیلو برنج و ۲ تخته کمپل توزیع گردید.



## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستیو بارانونو له امله ۱۲ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ‌نړیوال سازمان په ملاتړ, د وروستیو بارانونو له امله ۱۲ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې.
له دې جملې 11 کورنۍ د ښار د بېلابېلو برخو اړوند وې او یوه کورنۍ په قرلق کلی کې وه چې کور یې په بشپړ ډول ویجاړ شوی و.
په دې لړۍ‌کې هرې کورنۍ ته درې تختې کمپلې, سولری څراغ, ترپال, (دیګ بخار, چاینک, لوښی, صابون, د ګاز ډبه او د پاکی وسایل لرونکی کورنۍ کېټ) او (بېل, کلنګ, اره او تېشه) لرونکی د سرپناه کېټ, همدارنګه هغې کورنۍ‌ته چې کور یې په بشپړډول ویجاړ شوی و هغې ته یوه خیمه هم ووېشل شوه.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۳۱۴ اړمنو کورنیو لپاره د نغدی مرستو د وېش لړۍ پیل کړه



د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ژغورنې نړیوالې کمېټې IRC په مالی ملاتړ, د یاد ولایت دولت شاه ولسوالۍ په فراشغان دچاشدار په سیمه کې د ۳۱۴ اړمنو کورنیو لپاره د نغدی مرستو د وېش لړۍ پیل کړه.
په دې لړۍ کې د یاد ریاست او موسسې استازو په شتون کې نن ورځ له یادې جملې ۱۶۴ کورنیو ته د ژمنی توکو د پېرلو لپاره ۲۲۵۰۰ افغانۍ هرې کورنۍ ته ووېشل شوې او پاتې نورو کورنیو ته به سبا ورځ دغه نغدی مرستې ووېشل شی.

## د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۱۵ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري له لوری د هستوګنې لپاره د آقاخان موسسې سره د لاسلیک شوی هوکړه لیک پر بنسټ, یادې موسسې د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ, ۳۱۵ زیانمنو او مستحقو کورنیو ته د بامیان په مرکز کې نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۷۸۹۰ افغانۍ او په مجموع کې ۲۴۸۵۳۵۰ افغانۍ نغدی پیسې یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۲۸۷ زیانمنو او اړمنو کورنیو سره نغدی مرستې وکړې



د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د IRC موسسې ترمنځ د هوکړه لیک له مخې او د یادې موسسې په مالی همکارۍ، د یاد ولایت په روحانی بابا ولسوالۍ کې د طبیعی پېښو له امله ۲۸۷ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

د یادونې وړ ده چې په دی بهیر کې به یاد شمېر هرې کورنۍ ته د درې سوه ډالرو معادل افغانۍ په څو قسطونو کې وېشل کیږی او اوس مهال د سروې وروسته، هرې کورنۍ ته د درېیم قسط ۲۷۰۰ افغانۍ نغدی پیسې ووېشل شوې.

همدارنګه د یاد ریاست او موسسې استازو ووېل چې د یاد ولایت مرکز او نورو ولسوالیو کې هم سروې پیل شوې ده او په راتلونکې کې به نورو اړمنو او زیانمنو ته هم مرستې ووېشل شی.

ورته مهال له مرستو برخه منو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او موسسې څخه د مرستو په پار مننه او خوښی څرګنده کړه او د مرستو د زیاتېدو غوښتنه یې وکړه.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۲۰ مستحقو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اکټېډ موسسې په ملاتړ, ۳۲۰ کورنیو ته د کندز ښار په پنځمه او شپږمه ناحیه کې له سروې وروسته د ژمی لپاره نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د ټاکل شوی پلاوی په شتون کې ۲۲۵۶۰ افغانۍ نغدی پیسې ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس برای ۴۸۵ خانواده آسیب‌پذیر مساعدت نقدی توزیع کرد

به اساس تفاهم نامه که قبلا اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با موسسه IRC امضا نموده بود، موسسه متذکره در هماهنگی با ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس، برای ۴۸۵ خانواده آسیب پذیر مساعدت نقدی جهت تهیه مواد غذایی توزیع کرد.

در این پروسه به هر خانواده مبلغ ۵,۴۰۰ افغانی توزیع گردید.



## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اکټېډ موسسې په ملاتړ, په مزار شریف ښار کې ۶۵ مستحقو او اړمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



د یادونې وړ ده چې دا مرستې د (بېلابېلو سکتورونو کې د بېړنیو اړتیاوو لپاره د هستوګنې د لارې چارې په کارولو سره د غیر رسمی مېشت ځایونو دننه او شاوخوا اوسېدونکو لپاره د بېړنۍ ځواب وینې) پروژې تر نامه لاندې، هرې کورنۍ ته ۲۲۵۶۰ افغانۍ ووېشل شوې.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري سرپرست د تېرو مرستو په دوام یو ځل بیا په کابل کې ۶۵۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې



د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اکټېډ موسسې په ملاتړ, ۳۲۰ کورنیو ته د کندز ښار په پنځمه او شپږمه ناحیه کې له سروې وروسته د ژمی لپاره نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د ټاکل شوی پلاوی په شتون کې ۲۲۵۶۰ افغانۍ نغدی پیسې ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس برای ۴۸۵ خانواده آسیب‌پذیر مساعدت نقدی توزیع کرد



به اساس تفاهم نامه که قبلا اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با موسسه IRC امضا نموده بود، موسسه متذکره در هماهنگی با ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس، برای ۴۸۵ خانواده آسیب پذیر مساعدت نقدی جهت تهیه مواد غذایی توزیع کرد.
در این پروسه به هر خانواده مبلغ ۵,۴۰۰ افغانی توزیع گردید.